مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد

ع، شیرزوي

۲۰۱۷/۱۱/۰۲

# بربریت یعنی څه؟

د هغه ناروا او کرغیړنو کړنو ټولګه ده چې د قتل، غلا، رشوت،غصب او قاچاق او نورو غیری انسانی اعمالو څخه تومنه اخلي، دغه حیوانی او د وحشت نه ډک صفتونه بربریت ته لاره خلاصوي.

په همدی دلیل سره یونانیانود پوړکیوپه ډلویش « طبقه بندی » کې او د بشری ټولنود ودې په فرهنګونو کې راغلي: د انسانانو هغه ډلګي چې د انسانی قواعدواو اصولو څخه بهرشي بربریت رامنځ ته کوي، او کومه کړنلاره چې دټولنې په اداره کولو کې په شکل د اشکالوحاکمه وي هغې ته بربریسم وايي.

په ډیر تاسف سره د افغانستان مظلوم او بی دفاع ولس ښاوخوا څلورلسیزی د همدی شومی پدیدي ښکاردي،کوم ناورین او ترنګیلي حالت چې همدا شیبه زمونږ مظلوم خلک ورځ تربلي دغمونو او ویرونو په ټغر کیښنوي او هره ورځ په لس ګونو او سل ګونو ځلمیان د پورتنیو تلی ښتو د ساتلو په خاطر خپل خوږ ژوند د لاسه ورکوي او په آبدی خوب بیده کیږي، ګونده موریې نه پوهیږي چې د ځوان ځلمی زوی مزار یې چیرته دی؟ د دري خوږی ژبې یوبیت:

دنیا را بر این کرگ مزور همه روز
گوسفندان دیگربا او خیره می نیگرد

کوم ترینګلي حالت چې زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې روان دی دا د استخباراتي جګړی زیږنده دي چې د نړی د زبرځواکو هیوادو اوږد مهالی پروژې میوې دي چې هره ورځ یې زمونږ بی دفاع خلک نوشوي چې د خپلو شومو موخودپلي کولو له پاره یې زمونږ یو شمیر بی ضمیره،لده غر،بی فرهنګه، او پردي پالو په وجود کې خپل ناولي پلانونه پلي کوي چې د همدوي په وساطت سره زمونږ د هیواد څخه اومه مواد وباسي، پخپلو کارخانو کې یې په پخو موادو تبدیل دوباره یې په جګه بیه پر مونږ خرڅ کړي چې دا کړنه د نوی استعمار ترټولو زبیښونکي یو بڼه ده.

د همدی تورمخوپرمټ څرنګه خپل فرهنګ پر مونږ ومني، د خپل بی شرمه ژونددد پایښت له پاره زمونږ د خلکو ترمنځ رنګارنګ توطي پلان اوپلي کړي، او د ولس تر منځ د بی با ورۍ فضا رامنځ ته کړي.په ټولنه کې قومی تعصباتو ته لمن ووهي پر اقلیتونو تکیه وکړي او د اکثریت د منزوی کولواو له منځه وړلو له پاره شریرپلانونه تر اجرا لاندی ونیسي او نورې په سل ګونه توطیې.

تیره ورځ د افغانستان تش په نوم پارلمان کې چې په ریښتیا د ولس سره دوښمنانه دریځ لري اود همدی موخي له پاره یې دغه دبره ماران د یوشمیر ناروا دسیسو په پایله کې دي مقام ته راورسول او باداريې اوس ورڅخه حساب غواړي، یو ځل بیا یې خپل وطن دوښمنه شوم نیت او کرغیړنه څیره را څرګنده کړه او د ولسمشرهغه تقنیني فرمان یې رد کړ کوم چې اته میاشتي پخوا ولیرل شوي ووچې د افغاانو په پیژند پاڼه کې د اسلامیت او افغانیت کلمو ته ځای ورکړل شي.

دوي خپله تربګني او پردي پالی څخه ډکه پریکړه د افغانستان د اساسی قانون د « ۴ » او نورومادو سره په ټکرکې ده.دغه پردي پال او مذدوره کړی غواړي د افغانانو څخه ملی هویت او ملی عزت لوټ کړي او ځانونه ځپلو بادارنو ته ریښتني او وفاداروروپیژني. دغه ملاماتي حکومت په تیرو اتو میاشتو کې ونشوای کوالای چې ولس ته پیژند پاڼي ووبیني، حکومت ناخبره لدي چې یوځل بیا دیردیو په لمس دغه منحوسي څیرې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سره لاس په کار شوه او د ولمشر فرمان یې د اوسمهال له پاره رد کړدغه زمینه سازی دي غلو ته همدی دوسرۍ حکومت په لاس ورکړه چي خپلي ناولي پښي د خوار ولس په ستوني ږدي او هره لحظه یې زېښي او د وطن ټول اسلامی او ملی ویاړني یې پر پردو وپلورلي چي دا بهیر خورا په چټکي سره روان دی . یو شاعر وایي:

هستی د وطن لوټ شوه هري خوا ته لوټ ماری ده
د غلو زمامداری ده

د وطن پدي نازکو شیبوکي په ټولو انسانی بنسټونو باندی غږ کوم چي لاس په کار شي وطن او ولس دی ددې ستراو ویجاړونکي ناورین څخه وژغوري لاس تر زني دی نه کښېني او دسیل بین رول دی نه ادا کوي دغه د لستوني ماران چي دا څلویښت کاله د خلکو په اوږو سپاره وه او دي را کوزعدلي او قضایي ادارو ته دي وسپاري تر څودا هر دم شهید ملت ددوي له شره په امان شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پاز والي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ